دوکتـور صلاح الـدین سـعیدی ۲۰۰۹/۰۷/۱۳م

# اتـــــکل او سـپـارښـت

(دافغانستان د ۱۳۸۸ د جمهوری ریاست د ټولټاکنو په هکله)

د خوښی ځای دی چه دادی د افغان ولس هم د دنیا د نورو متمدنو ټولنو په شان د خپل سرنوشت په هکله په ټول ټاکنو کی خپل تصمیم نیسی او خپل آینده زعیم او د افغانستان دحل د لارو نسخی غوره او ټاکی. .
دغه پروسه په افغانستان کي خلکو ته د هغو اداره په لاس کی ورکول په دی وطن کی د سولی لپاره اساسی او ستر گام گڼم.

کله کله په دی هکله هغه د تیرو پیړیو د استعمارد دوری تاریخ را یاد شی. نړی او داستعمار مفاهیم اوس تغییر کړی . نوی زمانه ده خو یو سلسله ورته والی را په زړه شی.
استعمارعربی کلیمه ده. استعمار د طلب اعمار په مانان ده. یعنی داچه زه یی نه شم آبادولی و نه شم جوړولی او د بل څخه د ودانولو غوښتنه کوم. په اصلی کی دا کلیمه مثبت مفهوم لری اماپه اصطلاح کی همغه مفهوم دی چه د استعمار گرو او مستعمره هیوادو فهم او تعبیر کاملا توپیر لری. د مستعمره هیوا دو په تعریف او تعبیر استعمار یعنی دا چه استعمار گر هیواد د تمدن او ترقی تر نامه لاندی د مستعمره هیواد مادی او معنوی شتمنی لوټوی .
یعنی داچه د تاریخ یاد او حافظه حد اقل دو ډوله ده. تاریخ پوهان هم په دی حساب دوه ډلو باند ی یشلی شو. هغه تاریخ پوهان او یا سنه نگاران چه د مستعمره هیواد له نظره یی تاریخ لیکلی او بل هم هغه چه د استعمار گرو سنه نگاران او تاریخ پوهانو له نظره یی تاریخ لیکلی وی. په دی برخه کي د بحث د تکمیل لپاره باید ووایم چه تاریخ عربی کلیمه ده او لغوی مانا یی سنه نگاری ته نژدی ده . اما دتاریخ اصطلاحی مانا د لغوی مانانه پراخه ده. په تاریخ علم کي د سنه نگاری په څنگ کي یو سلسله تحلیل او د مسایلو ارتباط هم راځی.

که خبر لنډه کړم تر تیر سدی او قرنه پوری د انگلیس د استعمار د هغه وخت بعضی حاکمانو او متفکرینو په دی باور وه او دی چه دوی دیو متمدن او پرمخ تللی انسانی ټولنی د استازو په توگه رسالت او وظیفه لری چه د دنیا وروسته پاتی ټولنو ته نوی تمدن ، صنعت او پرمختگ یوسی او دوی د حاکمیت او پرځان باندی د اداری او حکومت ته چمتو کړی.
په همدی سلسله هم د استعمار گرو هیوادو استازی په ملل متحد کی د شورای قیمومیت په چوکاټ کی هر کال گزارش ورکاوه چه د مستعمره هیوادو وگړی یی سر کال څومره پرمختگ او ترقی ته تیار کړی. دوی دا گزارش ورکاوه چه د مستعمره هیوادونو وگړی دا تمدن پیداکړی چه خپل سرنوشت په خپل لاس کی ونیسی او که یه؟ د مثال په توگه د انگیس وروستی حاکمیتونه هم د مستعمره هیوادو د خلکو مبارزی مرکزی نقطه نه بلکی د استعمار گرو هیواد د هڅو نتیجی بولی چه مستعمره هیوادونه یی د آزادی لپاره عملا چمتو کړی.
تقریبا شل کاله د مخه د – تاریخ مبارزات ضد استعماری مردم افغانستان – تر عنوان لاندی زما یو ریسرچ او رساله نشر ته ورسیده او په اروپا کي د افغانستان د استقلال د لمانځنی په هکله د افغانستان د سفارت له خوا د یوی غونډی په ترڅ کي دا ورځ نمانځل کیدله . په دی غونـډه کی د نورو هیوادو په پرتله د انگلیس د سفارت گډون په ډیره علاقمندی او عالی وه. ما چه د غونډی د ترجمان او منجمنت په برخه کي کار کاوه د خبرو په ترڅ کی د انگلیس د سفارت علاقمندی می په پورته ذکر شوو مطالبو کي ولیدله .

بیرته راشو خپل اتکل او سپارښت ته :
په افغانستان کی رینښتینی کامیابی او بری په څه کی دی؟ د نړیوالی ټولنی ن رسمی سیاست څه دی او څه اتکل کیدای شی او سپارښتونه څه دی؟
رینښتنی کامیابی اوبری هغه وخت راتلی شی چه د افغانستان خلک خپله په خپل وطن کی خپل سرنوشت په لاس کی ونیسی.ددی لپاره صادقانه کار په کار دی. خلکو ته فریب ورکول په کار نه دی او خلک په حقایقو پوهیږی . اوسنی حاکمیت باید داسی ونه کړی چه ددی فرصت څخه غلطه گټه واخلی او دا ټولټانی او انتخابات او د هغه په اساس جوړ شوی حاکمیت مشروعیت کمرنگه او تر سوال لاندی راولی . .

ټولټاکنو او افغانستان په هکله د جهان او امریکی رسمی سیاست:
مونږ په افغانستان کي د دموکراسی او د انتخاباتو د پروسی پلوی کوو او دکوم مشخص کاندید پلوی نه کوو. دابنه


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

خبر ده. خو په عمل کې داسی نه بریــښی. والی، قومندان، د ټولټاکنو مستقل کمیسیون!؟، صندوق، رنګ، ماشین ، وعدی او د جنایت کارانو د عفوی وسایل او .......ددوی په لاس کې دی.
نتیجه تقریبا معلومه ده.

لار څــــه ده؟

انتخابات له سره ردول او مقاطعه کول؟
نه دا ښه خبر نه ده. تر نهایی حده د قانون او د هغه په تطبیق هڅه کول.
که چیری انتخابات د قانون سره سمی او شفاف وی نو بیا د هغه کاندید چه د خلکو اعتماد یی تر لاسه کړی د هغه په مشروعیت اعتراف کول په کار دی.

که د قانون نه تخلف وی او دا تخلف ته څوک غوږ نه ږدی نو بیا مقاطعه په کار ده.
-افغانستان اوس د هغه آته کالو پخوا حالت کې نه وتی دی. په افغانستان کی ډیر فرصتونه له لاسه تللی. اوسنی حاکمیت خلکو ته څه د ویلو نه لری. د ریاست جمهوری ۴۱ څلویښت کاندیدان چه اکثر یی خلک نه پیژنی - کړنلاری او برنامی یی چا ته ښی معلومی نه دی او اعتبار یی هم قوی نه دی چه هغه څه چه وایی عملی به یی کړی او که یه؟ شواهد او قراین ښی چه که په دی ټولټاکنو کې که تقلب و نه شی نو انتخابات دوهمی دوری ته ځی. او نور مصارف هم کیږی.

وضعه داسی ده نو د حل لار څه ده چه د ملت آرزو تر سره شی؟
ځواب او سپارښت یو دی:
-د مشابه او نږدی افکارو ، کړنلارو او برنامو کاندیدان باید د انتخاباتو په لمړی دوره کی په هغه شی چه توافق کولای شی - توافق وکړی.

د ټولټاکنو په دوهمه دوره کې باید په متحد کاندید توافق وشی.
-مه پریږدی چه فرصتونه د لاسه لاړ شی.
که توافق و نه کړی او سیاسی هوښیاری و نه لری نو بیا به همغه زوږ سیاست او زړی خبری وی .

مونږ ته لازمه ده چه دجمهوری ریاست هغه کاندیدانو سره چه اړیکی لرو او آواز مو اوری ورته ورسول شی- چه د بی باوری او بی ځایه غرور او تکبر په صورت کې به هیڅ تر لاسه نه کړی.

-په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو څخه زما درخواست دادی :
که خپل ځان ته نجات ورکول غواړی او افغانستان آباد او آرام غواړی نو تاسی ته په کار ده چه په عمل کې د هغو سیاسی رسمی تصامیمو له پاره عملی کار وکړی چه اعلان کړی مودی( مونږ د پروسی پشتیبانی کوو نه دمشخص فرد).

زما اټکل دادی که دا د افغاننتان د جمهوری ریاست کاندیدان د بی ځایه غرور او بی باوری په نتیجه کې توافق و نه کړی په هغه صورت کې به د ملت آرزو ګانی خاوری او سرنوشت به یی د جنایت کارانو په لاس کی ورکړل شی.
که په تغییر او تحول باور لری او غواړی چه د ملت آرزو او آرمان تحقق و مومی - نو نیک توافق و کړی. بله لار نه شته !!!
زما اټکل دادی چه د عدم توافق او بی باوری په نتیجه کې به قربانی د افغانستان ملت او نړیوالی ورکړی.

فرصت ها را نباید از دست داد!
مردم ما رنج میبرند و همه روزه به درد و آلام شان افزوده میشود!

به امید موفقیت همه افراد صالح و خیر اندیش!

فاعتبروا یا اولی الابصار


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.